Share

Twittern

قيس کبير

۳۱/۰۸/۲۰۱۲

# که نن اقدام و نه کړو سبا به ناوخته وي

## د ژبو اهميت په نوي تکنالوژۍ او راتلونکي کي
## د هېوادونو له ملي ګټوسره په تړاو کي دي
## ارزونه

وروستی برخه

ګرانو لوستونکو!

که موږ يوازي د نن ورځي د معلوماتي تکنالوژۍ د پرمختګ لړۍ د تېرو پېنځو کلونو له هغه سره پرتله کړو، نو و به وينو چي د تکنالوژيکي پرمختګ بـهير په دومره حيرانونکي ګړندیتوب پر مخ درومي چي لږ تر لږه په راتلونکو پېنځو کلونو کي د پرمختګ د کچی تصور بي زموږ عادي لېد ته نا ممکنوي. د بيلګي په توګي پنځه کاله پخوا، سمارتفونونه لکه ګلکسی، آيفونونه او پی سی تابليتونه موجود نه ول. په آپريتنګ سيستمونو کي د لسګونو ژبو شامليدل د نويو تکنالوژيکو پنځونو شموليت لاره پرانيستله.

په دي توګي په آپريتينګ سيستمونو او « سافت وييراپليکيشنونو» کښی د يوي ژبي ادغام تـشـخُص وموند.

هماغسي چي په لومړی برخي کښي ياده سوي، مايکروسافت په متقابلو مؤسسو پوری ترلـی او د نـوي آپريتنـګ سيستم محلی اختيارمندانو، او د نړی ګڼ شمېـر هيوادونو ته ، په بل عبارت ډيرو ژبوته بي امتياز ورکړی، تر څو په خپل کمپيوتري سيستم کي د ژبی – دخول (Input) ْ او د ژبی- ديسپلی Display-language ، لـه خپلي غوښتني، منطقوي معيارونو او د خپلي سـيمه ييزي ژبي له ارتياوو سره سم عيارکړي.

د يادوني وړ ده چي، د ځينو بنستونو د مسؤولينو غور او د ځينو نورو د هڅو پر بنسټ لکه، د «نيکتا» NICTAA- National ICT Alliance of Afghanistan)، مؤسسه لکه «افغان کمپيوتر ساينس» او د افغانستان «د مخابراتو وزارت»، له ۲۰۰۴ تر ۲۰۰۸ پوري د مايکروسافت په مرستي و کړای سول د افغانستان " دري ژبه د يوی ځانګړي خپلواکي ژبی په توګي له ايرانی فارسی څخه په مستقل ډول ،"د ژبی «پـه» - دخول (Input) کي داخله کړي همدا رنګه بي وکولای سول د پښتو دْژبی – دخول (Input)" د هغي پر **«لی اوت کيبورډ Keyboard layout» باندي، پـه آپريتنـګ سيستمونو کـي مدغم کاندي، چي د تحسين او د خوبنی وړ کار دی. دا چي دا ملی او د اهميت وړ پروژه څرنګه او ولي له خپلو اصلی هدفونو څخه منحرفه سوي او تر دي مهاله په ټپه ولاړه ده هغه موضوع ده چه بايد وڅېړل سی؛ او د ارزوني په نتيجي کي دي د دي معضلی د هواری لاره تر لاس لاندي ونـيول سي.**

په دي لړکي تر هر څه زياته دردونکي خبره په نويو آپريتينګ سيستمونو کښی د پښتو د «ژبی ديسپلي» د نشتوالي له کبله د (کلاينت & سرور) او مايکروسافت آفِس ستونزه ده.


Language Interface Packs (LIPs).

| Language | Native name | Base language and edition required | Windows 7 |
|---|---|---|---|
| Dari | دری | English (any edition) | Download |
| Persian | فارسی | English (any edition) | Download |

د مايکروسافت کمپنی په نويو **آپريتينګ سيستمونو کي** د پښتو „ ژبی- ديسپلی " **د ډونلوډولو لپاره اړو کسانو ته په اختيار کی نه ده ورکړي. دا هغه پوښتنه چي د افغانستان د دولت مسؤولين ( د مخابراتو ، د لوړو زدکړو** او د اطلاعاتو او کلتور وزارتونه) اړوند ارګانونه بايد د دي ستونزي هواری ته بېړنی ګام اوچت کړي.



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

په داسي حال کی چي د افغانستان د دري «ژبی – دیسپلی»، لکه د ایران د فارسی «ژبی - د دیسپلی» په شان د مایکروسافت د دونلود له مرکز څخه تر لاسه کېږي مگر د پښتو د ژبي څرک هېڅ نه لیدل کیږی. (پورتنی گرافیک وگورئ).

د مایکروسافت کمپنی لا تر اوسه په مایکروسافت آفِس کي د پښتو د «ژبی- دیسپلی» ، محتاجو ته په اختیار کي نه دی ایښی. دا د افغانستان په دولتي مسؤلینو پوري اړه لري چي دي موضوع ته جدي پاملرنه وکړي. څرگنده ده چي د مایکروسافت د دونلود له مرکز څخه، د افغانستان د دري « ژبی – دیسپلی» مایکروسافت آفِس، لکه د ایران د فارسي په شان تر لاسه کیدای شي، مگر د پښتو د « ژبی – دیسپلی» د لاس ته راوړلو امکان نشته. (د څنگ گرافیک ته وگورئ)



| Language | Native Name | Office 2003 | Office 2007 | Office 2010 |
|---|---|---|---|---|
| Dari | دری | Not Available | Not Available | Download |
| Pashto | Pashto | Download | Not Available | Not Available |
| Persian | فارسی | Download | Download | Download |

دلته د نورو دلیلونو تر څنگ کیدای شي دي ټکي ته هم اشاره وشي: دا پروژه د قومي - ژبنیو ملحوظاتو په علت، د داسی کسانو لاس ته لوېدلي چي دي خبرې ته د خپل سیاسي، قومي او ژبني لېـدلوري پر بنسټ گوري چي له یوې خوا د پښتو له ډاټا بیس څخه قصداً اغماض کوي او لـه بلی خوا د دري په ډاټا بیس کي یې له نامأنوسو او بې مفهومو ایراني اصطلاحاتو څخه کار اخیستی دی. دا په ټولو افغانانو پورې، که د باندي دي یا په هیواد کي دننه، اړه لري چي د افغانستان د دولت پر مسؤلینو لازم او هر اړخیز فشار راوړي، تر څو عملاً په دي کار لاس پوري کړي او دا ملی پروژه له خطره او د غیر ملي اشخاصو له لاسوهني او د ملي خلاء له منځته راتگه وژغوري او د ملي اشخاصو او د مایکروسافت له لاري په حل او فصل کولو دي د ګټه اخیستونکو اساسی ضرورتونه رفع کړي.

مایکروسافت ته د دې ستونزې هواری، ډېر آسانه دی، په دې شرط چې د افغانستان دولت د یو شمېر نویو آپریټنگ سیستمونو او د آفِس اپلیکیشنونو او نور سافتویرونو د پنځولو لپاره جدي گامونه اوچت کړي. که داسي ونه شي نو څرگنده ده چي افغانستان به د خپلو ملي ژبو لپاره د «ژبی د ننوتلو (Input)» او „ د ژبی - له ډِسپلی Display-language“ څخه محروم او غیر افغاني او تر ډېر وخته به ایرانی فارسی نامأنوسو اصطلاحاتو ته اړ پاتي وي.

که چیري افغانان له ټولنیز پوهاوي پرته او یا د بشپړې پوهې په نیمگړي حالت کښی، د ملي ژبو په برخي کي دا چانس له لاسه ورکړي، په هغه صورت کی به نه یوازي د افغانستان دري ژبي د ایران د فارسي د پیروی محکوم وي، بلکه پښتو ژبی به هم، د تکنالوژیکي آسانتیاوو د کمښت له کبله له هماغه برخلیک سره لاس او گریوان پاتي وي.

اړیني هڅي په کار دي چي په تکنالوژی کښي زموږ د ملي ژبو نوم او اهمیت د ملي ګټو پر بنسټ له تکنالوژیکي اړخونو وڅېړل شي، نه د تأریخي، سیاسي او ادبي او داسي نورو اړخونو له پلوه، چي زه لېـکوال دا صلاحیت په ځان کی نه وینم. په دې لیکني کښي بنسټېزه هڅه کېږي چي د افغانستان د ملي ګټو پلویانو ته هر اړخېز انځور وښودل شي چي زموږ هیواد ته زموږ ملي ژبي کومي ګټي په ځان کي رانغاړي، او دا هم په هغه صورت کي چي د «فارسی» پر ځای دري ومنل سي، ځکه د فارسي پر ټنډي باندي له ډیري مودې را په دېخوا د فارس ( اوسني ایران) ټاپه وهل سوی. په کار ده چي رسمي ژبو (دري او پښتو) ته، لا نوره او ډېره جدي پاملرنه واړول شي او تر حده کوښښ وشي چي پښتو او دري ژبي په پرېکنده او مستقل ډول د تل لپاره په اطلاعاتي تکنالوژی کښي شاملي شي.

په هغه حالت کي چي افغانان د پوهي او خبروالي په رڼا کي په خپلو ملي ژبو، نه د ایران په « فارسی»، بسیا وي او وربانديِ ډېره ولگوي نو په اطلاعاتي تکنالوژی کي د ملي ژبو ادغام لاندیني لوړی ګټي له ځان سره بدرگه لري :

- د ایران له فرهنگي دیکتاتوری څخه خلاصون.

د ایراني شؤونیزم د درو گونو برتریو له هڅو څخه یوه یې د ژبي موضوع ده.( د زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره لاندیني لینکونه وگورئ، لاندي لیکني په دري ژبی دي ) :
[د ایران د دری بعدي شؤونیزم ارزونه – لومړی برخه](د ایران د دری بعدي شؤونیزم ارزونه – لومړی برخه)
[د ایران د دری بعدي شؤونیزم ارزونه – دویمه برخه](د ایران د دری بعدي شؤونیزم ارزونه – دویمه برخه)
[د ایران د دری بعدي شؤونیزم ارزونه– وروستی برخه](د ایران د دری بعدي شؤونیزم ارزونه– وروستی برخه)

دي موخي ته د رسیدو لپاره، دوی په ټولنیزو رسنیو (ورځپاڼو، راډیو، تلویزیون او ...) کي د پهلوي فرهنگي یرغل له لاري چټکی هڅي کوي چي ایرانی فارسي، د اطلاعاتي تکنولوژی په توگی د سیمي په کچي پر نورو باندي ومني او په دې لاري کي له لاندینو لاروچارو کار اخلي:


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

۱. د مایکروسافت له سیمه بیز پروګرام LLP  څخه  د پښتو ژبې ایستل. هماغسې چې پورته یادونه و شوه، د پښتو ډیسپلې ورژن په  نویو آپیریټینګ سیستمونو کښې د مایکروسافت آفِس کښې نه شي تر لاسه کېدای، که په راتلونکو ورژنونو کې هم په دې ډول پر مخ لاړه شي، نو مایکروسافت به د پښتو د ژبې د سیمه بیز پروګرام لغوه کېدل هم عملي کړي.

۲. د دري په ډاتابیس کې د دري ژبې لپاره د نامأنوسو اصطلاحاتو ورګډول هغه هم په دې ډول چې نور به  د فارسي ژبې تر څنګ  د دري د ژبې  شتون  ته هېڅ اړتیا نه وي.
۳. په  ایرانی فارسي د لاربوديزو پروګرامونو ژباړه او د پروګرامونو وده او د انشایي، املایي، ګرامري، او لهجوي غلطیو کنټرول او د ږغ پیژندنې او بیان ډیزاین.

دا ډول یادې شوې کړنې په پرېکنده او مطلق ډول سره د افغانستان له لوړو ګټو سره په ټکر کې دي او اړینه ده چې مخه يې ژر تر ژره د ټولو وسیلو په کار اچولو و نېول شي. که نه نو په نېږدې راتلونکې کې به داسې یو نسل ولرو چې د بل لاس ته به ګوري او د ایران په فرهنګ پوري به تړلې یو نسل وي.

- اقتصادي، تخنیکي او علمي.

هماغسې چې په تېرو برخو کې وویل شول، آپریټینګ سیستمونه د کمپیوټرونو منجمنت په غاړې لري چې په دوی کې د یوې ژبې له ادغام سره جوخت هغې ژبې ته د سافتویرونو د ادغام آسانتیا برابروی. دلته ده چې د نوې ژبې د امکاناتو له لارې زر هاوې پروګرامونه ته، د سمارټفونونو او نورو ماشینونو په وسیلې وده ورکول کیږی، چې د همدې درج شوې ژبې لپاره په زرګونو کسبونه او شغلونه پنځول کیږي چې نه یوازې له اقتصادی اړخه د ددغو هېوادونو په ګټه ده، بلکه د ژبنی د ودې، تخنیک او ان له عملي اړخه پنځوونکي ده.

د دې لیکنې بنسټیزه  موخه یوازې له کمښت څخه انتقاد نه ده، بلکه یو جدی خبرداری دی چې د مسؤلینو  او  د افغانستان د هېـوادپالو کړېو پام ورته راواړول شي تر څو له هغو خطرناکو او منفی عواقبو څخه خبر شي چې د هېواد له راتلونکي سره اړیکي لري.  په دې اړوند یو پنځوونکې وړاندې دا دی چې :

لومړی -  دا ملی پروژه چې د ځینو ملحظاتو پر بنسټ بی لاري ښـکاري، په ټېه ولاړه ده، باید هر څه ژر په مجدده توګه، د افغانستان د حکومت د صلاحیت د خاوندانو او مقاومونو تر لاس لاندې راشي. د حکومت د اړوندو مقامونو څخه دا پوښتنه کیږی چې د اړینو ګامونو په اوچتولو دې په آپریټینګ  سیستمونو، ساڤت ویرونـو او داسې نـورو اپلیکیشنونو کې شته نیمګړتیاوې لـېرې کړي.

دویم – د ملي ژبو د معیاري کېدلو او په پراخ ډول د پورته یادو شویو نیمګړتیاوو د لیرې کولو لپاره زموږ هیواد باید د هندوستان د ستر  هیواد له تجربو څخه کار واخلي چې په اوسنی نړۍ کښې د اطلاعاتي تکنالوژۍ له مخکښانو څخه په سیمه کښې شمیرل کیږي  او له نیکه مرغه د افغانستان یو پیژندل شوي تأریخي دوست هم دی. موږ په دې باور یو، که دوست هیواد هندوستان، په دې شرایطو کې د همکارۍ او مرستی لاس زموږ خواته راوغځوي، نو د اطلاعاتي تکنالوژۍ په برخې کښې به د افغانستان د دولت غوښتنه ومني چې ځوانانو ته مسلکي روزونه ورکړي. د دی موخې د سر ته رسیدو لپاره، باید یوه ډله د افغانانو د کمپیوتر ساینس د متخصصینو او ژب پوهانو له منځه جوړه شي او  د  هندوستان د مشهوری مؤسسی «Bhash» (*) تر تدریس او مسلکی تمرینونو لاندې دې راوستل شي، چې په نـېږدی راتلونکي کې دا وړتیا ولري چې د رسمي ژبو (پښتو اودري) د هر  اړخیزې ودې لپاره یو په صلاحیتونو سمبال «Afghan-LIP» په افغانستان کښې په آپریټینګ سیستمونو او د سافتویر آپلیکیشنونو کې جوړ کړي، او دا ډول ملي پروژه چې د افغانستان په راتلونکي کې ډیر اهمیت لري، له اوسني په ټپه درېدلي حالت  څخه وباسي.

د پښتو او دري اصطلاحاتو په برخې کې کیدای شي دوه وو قاموسونو ته ځای ورکړو دا : «تخنیکي انګلیسي قاموس په پښتو او دري» او « ایراني فارسي اصطلاحات د افغانستان په دري» قاموسونه دي چې د ښاغلو رحمت آریا او ولي احمد نوري په هڅو او زیار د ترتیب په حال کې دي او د افغان جرمن آنلاین پورټال  د  «قاموسونو»  په څانګې کې تر کار لاندې دي. ، دا قاموسونه همدا راز هغو افغانانو ته هم  مرسته کولای شي چې په ننی اطلاعاتي تکنالوژۍ کې د هیواد د ملي ژبو  په محلي کولوباندي کار کوي.

## یادونه:

■  ددې لپاره چې د هیواد او د افغانستان د پرګنو په وړاندې زموږ ملي او افغاني دنده سر ته ورسیږي، د دې لیکنې نسخې چې پکښې د هیواد مهمې ملي موضوع ګانې وړاندې شوې، د افغانستان د مسؤلو مقامونو او د هیواد یو شمیر با خبرو او پوهانو ته استول کیږي، څو د مقامونو د مسؤلینو او د وطن د پوهانو پاملرنه ځانته راواړوي (د لیکنو پخوانی برخې د لاندی


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

لینکونو په کلیک کولو سره کولای شئ ولولئ. لاندی لیکنی هم په دری ژبی لیکل شوي دي. که چیرې کوم گران لوستونکی د دی موقع پیدا کړي چې پاتې برخې هم پښتو ته وژباړي نو له هغه یا هغې به ډیر منندوی اوسم. مننه)

■ تیری برخی : لمړی برخه – دوهمه برخه – دریمه برخه - څلورمه برخه – پنځمه برخه

(*) "مایکروسافت – India" یو پورتال د "Bhash" په نوم لري، چې راتلونکو نسلونو ته د هندوستان د ژبو تقویه د کمپیوتر د تکنالوژی په وسیله د ۱۵ زرو ودی ورکوونکو (Developer)، په واسط ایجاد شوی دی. د دی پورتال موخه د سافت ویر د ودی، د تولني جوړونکو او په دی برخې کښي د ژبي د څیړونکو او د هندوستان د ژبو د استفادی لپاره ده، تر څو د اطلاعاتی تکنالوژی په برخې کښي خپله ونډه ادا کړای شي.

پای

د دی لیکني لیکوال د KIT - پوهنتون «د کارلسرو انستیتوت د تکنالوژی لپاره» د الکتروتخنیک په رشتې کې زده کړه کړې او اوس د دیپلوم انجنیر په توگه د زیمنس په کمپنی Siemens AG کښی د سیستمونو د آتومیشن Automation Systems د چارو په برخې کښی کار کوي او ورسره جوخت د مایکروسافت د سیستمونو انجنیر MCSE هم دی چې « د ودې د شبکې MSDN غړیتوب » لري.
همدا رنگه لیکوال د افغان جرمن آنلاین د متصدیانو د دلې غړیتوب هم لري.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ